SHTAMANAI

پنجشنبه | د زمري ١٤ اسد ١٤٠٠ | ٥ اگست ٢٠٢١ | سال اول | شماره ٧ | ٤ صفحه



**جلسه هیئت رهبری تمویل کننده گان بین المللی (of Heads DonorsAgencies) دایر گردید**

ص۲

# د مالیې وزارت د رهبرۍ پلاوي ناسته ترسره شوه

د مالیې وزارت د رهبرۍ پلاوي ناسته نن د مالیې وزارت سرپرست محمد خالد پاینده په مشرۍ د دغه وزارت په خیبرهال کې ترسره شوه.



د مالیې وزارت د رهبرۍ پلاوي ناسته نن د مالیې وزارت سرپرست محمد خالد پاینده په مشرۍ د دغه وزارت په خیبرهال کې ترسره شوه.

په دغې ناسته کې، چې د مالیې وزارت د پالیسۍ معین نذیر کبیري، د عوایدو او گمرکونو معین عالم شاه ابراهیمي او ځینو نورو رئیسانو شتون درلود، د مالیې وزارت پالیسۍ معین نذیر کبیري، د څارنې او همغږۍ گډ بورډ (JCMB) درویشتمې ناستې د بریالۍ ترسره کېدنې په اړه مفصل گزارش وړاندې او د نړیوالې ټولنې او ډونر هېوادونو د ژمنو ډاډ ورکړ، ورپسې ځینو نورو مسولینو هم د خپلو کړنو اړین توضیحات ورکړل.

د مالیې وزارت سرپرست محمد خالد پاینده، د گډونوالو غړو کاري گزارش واورېده او په بودیجه کې له راغلو بدلونونو یې معلومات ترلاسه کړل، همدارنگه د چارو په ترسراوي کې یې د دوی له هڅو مننه وکړه او په وروستیو کې ناسته ته د راغلو غړو او کارکوونکو د ور سپارل شویو چارو په اړه لازمې لارښوونې هم وکړې.




سرمقاله

## صندوق بین المللی پول و انتظار خود کفایی اقتصادی افغانستان

صندوق بین المللی پول انتظار دارد تا رشد اقتصادی افغانستان نسبت به سال های گذشته بلند برود. وظیفه بانک جهانی گسترش سرمایه‌گذاری‌های مستقیم خارجی در کشورهای در حال توسعه به‌منظور کاهش فقر، رشد و بهبود زندگی مردم در این کشورها است. این سازمان، با تأمین تضامین برای سرمایه‌گذاران خارجی در مقابل خسارات ناشی از ریسک‌های غیر تجاری مانند مصادره، عدم تبدیل‌پذیری پول رایج، جنگ و شورش، سرمایه گذاری در این مناطق را تشویق می‌کند. کمک بانک جهانی شامل ارائه مشوره به حکومت افغانستان جهت قادر ساختن آن برای استفاده و مدیریت هرچه موثر تر و شفاف وجوه مالی منابع تمویل کننده میباشد. همچنان کمک بانک جهانی از طریق فراهم آوری کارهای تحقیقی در عرصه های اقتصادی، اداره عامه، مساوات جنسی، کاهش فقر و اقتصاد مواد مخدر و بررسی امور اداره مالی حاضر برای دولت افغانستان می باشد.
بانک جهانی طور فعالانه به امور مالی و اداره عامه کمک نموده است. بانک جهانی کمک هایش را درعرصه ارتقای ظرفیت کاری، قانونیت دولت، جلب و ورود منابع کشورهای تمویل کننده ازطریق بودجه دولت فراهم می نماید تا این امر تامین گردد که سرمایه گذاری با اولویت های مالی هم آهنگ گردد. تا اکنون بانک جهانی در مشارکت با سایر تمویل کنندگان با تعداد از سکتورهای که در آن مالکیت دولت و هم آهنگی کمکها بسیار ضروری است کار می نماید. با روی کار آمدن دولت موقت در افغانستان اقتصاد این کشور به میزان قابل توجهی پس از سال ۲۰۰۲ به نسبت کمک های بین‌المللی ازدیاد یافت. در این مدت صندوق بین المللی پول (IMF) برای جمع آوری عواید جمهوری اسلامی افغانستان یک سقف مالی را تعیین نمود و طی این مدت وزارت مالیه افغانستان که یگانه مرجع مالی در دولت افغانستان است مکلف بود تا هدف تعیین شده این صندوق را بر آورده سازد. در بیش از یک دهه گذشته اقتصاد افغانستان بیشتر به همکاری ها و کمک های بین المللی و کشور های منطقه وابسته بود و هنوز دولت مردان افغانستان مسیر خود کفایی اقتصادی را در پیش نگرفته بودند اما حکومت افغانستان تلاش نمود تا ایجاد ثبات مالی و خود کفایی اقتصادی را به وجود آورد که این هدف به شدت از طرف وزارت مالیه دنبال می شد. در این راستا، محمد خالد پاینده سرپرست وزارت مالیه به تاریخ ۲۶ سرطان ۱۴۰۰ ه ش جلسه اختتامیه بررسی برنامه اصلاحاتی مالی حکومت افغانستان با صندوق بین المللی پول که به شکل مجازی (Virtual ) در حضور داشت معین پالیسی و برخی از روسای وزارت مالیه برگزار کرد. در این جلسه روی تغییرات وسط سال در بودجه کشور و پیشرفت های افغانستان در تطبیق برنامه IMFبحث همه جانبه نمود، که در نتیجه صندوق بین المللی پول اصلاحات مالی و بودجه را موفقانه خواند.

## اخبار مهم هفته



**د مالیې وزارت او د ولسمشرۍ عالي مقام گډ پلاوي د کابل او حامد کرزي نړیوال هوایي ډگر د گمرکونو د صادراتي محصولاتو واحد ملي مرکزونو څخه لیدنه وکړه**

ص ۲



**Deputy Ministry of Finance for Policy met with Head of United State Agency for International Development**

ص ٤



**رضایت شرکای بین المللی افغانستان از تطبیق تعهدات حکومت شامل سند چارچوب مشارکت**

ص ۳



**د مالیې وزارت د دولتي شرکتونو د پیاوړتیا او ملاتړ لپاره د اړینه سینرژۍ برابرولو هوکړه لیک لاسلیک شو**

ص ۲

SHTAMANAI



# جلسه هیئت رهبری تمویل کننده گان بین المللی (of Heads DonorsAgencies) دایر گردید

در جلسۀ که به ریاست محمد خالد پاینده سرپرست وزارت مالیه و اشتراک رؤسای نهاد های انکشافی بین المللی، نذیر کبیری معین پالیسی وزارت مالیه و سایر رؤسای وزارت مالیه نیز حضور داشتند به شکل مجازی (virtual)برگزار گردید؛ روی نتایج نشست موفقانه بورد مشترک نظارت وانسجام (JCMB) در این برهه حساس و تاریخی، کارکرد های وزارت مالیه در رابطه به بهبود مدیریت مالی عامه، اصلاحات و تغیرات در بودجه وسط سال با درنظرداشت وضعیت پیش آمده در کشور ، بررسی امکانات تمویل خدمات اساسی، اولویت های اساسی صحت و معارف، رسیدگی به بحران بیجا شده گان,خوشکسالی و تمویل بودجه ملی بحث وتبادل نظر صورت گرفته تصامیم لازم اتخاذ گردید.



## د مالیې وزارت او د ولسمشرۍ عالي مقام ګډ پلاوي د کابل او حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر د ګمرکونو د صادراتي محصولاتو واحد ملي مرکزونو څخه لیدنه وکړه

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین ښاغلي عالم شاه ابراهیمي د ګمرکونو عمومي رئیسي اغلی امني احمدي او د کورنیو تولیداتو او صادراتو په چارو کې د ولسمشر سلاکار ښاغلي جلال الدین سعید په ملتیا د کابل او حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر د ګمرکونو د صادراتي محصولاتو واحد ملي مرکزونو (One Stop Shop) څخه د زمري میاشتې په ۷ مه نېټه لیدنه وکړه.

یاد پلاوي اړوندو چارواکو ته په دې برخه کې د شته ستونزو د حل او د هېواد صادراتي محصولاتو ته د لا اسانتیا برابرولو په موخه لازم هدایات ورکړل.

د یادونې وړ ده چې په یادو مرکزونو کې ټول سوداګریز توکي چې له هېواد څخه بهر صادرېږي او همدا راز ملي سوداګرو او خصوصي سکټور د



## د مالیې وزارت د دولتي شرکتونو د پیاوړتیا او ملاتړ لپاره د اړینه سینرژۍ برابرولو هوکړه لیک لاسلیک شو

د دولتي شرکتونو ریاست د رهبرۍ پلاوي د برېښنا له دولتي شرکت څخه لیدنه وکړه او د دغه شرکت له اجرائیوي پلاوي سره یې د برېښنا دولتي شرکت په اساسي فعالیتونو، د دې شرکت مالي وضعیت او د دوو کلونو تحقق موندنو، د عوایدو او لګښتونو د وضعیت، تورید پلان، په هېواد کې د برېښنا تولید او لېږد، ۱۴۰۰ مالي کال په پلان او یو شمېر نورو مسایلو په تړاو خبرې اترې وکړې.

د دولتي شرکتونو عمومي رئیس ډاکټر میرویس بهیج، د برېښنا شرکت اجرائیوي پلاوي ته مالي ځان بسیاینې ته د دولتي شرکتونو په برخه کې د افغانستان د حکومت لید لوری او د شرکتونو د ملاتړ لپاره د حل لارې چارې روښانه کړې.

نوموړي وویل، چې مالیې وزارت د برېښنا شرکت د لوی ونډوال په توګه اړین اقدامات په پام کې لري، ترڅو له دې شرکت څخه هر اړخیز ملاتړ وکړي او مالي ځان بسیاینې په رسېدو کې به د یاد شرکت لپاره اړینه سینرژي چمتو کړي. ښاغلي بهیج د ستونزو له ډلې یوه هم د دولتي شرکتونو عمومي ریاست او نورو شرکتونو ترمنځ د همغږۍ کمزوري یاده کړه. هغه زیاته کړه، چې د دولتي شرکتونو عمومي ریاست د پلاوي له بشپړېدو سره ښه همغږي رامنځته شوې ده او د مالیې وزارت او دولتي شرکتونو ترمنځ یې په لا ډېرې همکارۍ او همغږۍ ټینګار وکړ. د دولتي شرکتونو عمومي رئیس وویل، چې دغه شرکت د څارنې د پلاوي سکرتریت په توګه، د څارنې د پلاوي عالي مرجع ده او باید ټول شرکتونه له دې برخې سره هر اړخیزه همکاري او همغږي ولري.

د برېښنا شرکت تجارتي ریاست سرپرست احمد شهیر دشتي، د مالیې وزارت لید لوري ته د هرکلي ترڅنګ ټینګار وکړ، څو د مالیې وزارت او برېښنا شرکت ترمنځ همکاري او همغږي نوره هم پیاوړې شي. هغه زیاته کړه، چې برېښنا د هېواد په کچه یو تر ټولو لوی دولتي شرکت دی چې د هېواد په کچه د برېښنا په رسولو کې خپل خدمتونه وړاندې کوي.

نوموړي وویل چې د دغه شرکت کارکوونکي په غوره مسلکي او تخنیکي ظرفیتونو سمبال شوي دي او د تېرو کلونو په لړ کې د دغه شرکت په داخلي ظرفیت جوړونې ډېر کار شوی دی، هغه داسې چې اوس د دغه شرکت کارکوونکي کولای شي، ټرانسفارمرونه، لین بینونه، توربینونه او ځیني نور تخنیکي مسایل ترمیم، نصب او ګټې اخیستنې ته چمتو کړي. هغه وویل، چې د برېښنا شرکت پراختیایي بودیجه د اسیا انکشافي بانک (ADB)، نړیوال بانک، د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) او افغان حکومت له لوري تمویلېږي، چې دغه شرکت توانېدلی دی چې په تېر کال کې خپله ۹۵ سلنه پراختیایي بودیجه مصرف کړي.

د برېښنا شرکت تجارتي رئیس په وینا، د روان مالي کال په جریان کې د وارداتي برېښنا ۳۹ پایې په ماینونو الوځول شوې دي، چې د نوموړي شرکت تخنیکي ټیم لخوا دغه پایې بیا جوړې او وارداتي برېښنا وصل شوې ده.

نوموړي وویل، د شته امنیتي ګواښونو سره سره د برېښنا شرکت توانېدلی، چې د ۱۴۰۰ کال لومړۍ ربعه کې په ۹ ولایتونو کې له ۱۱ څخه زیاتو کسانو ته د برق د توسعې او اصلاح شبکې له لارې د برېښنا انرژي چمتو کړي. ده وویل که چېرې له ازبکستان نه راغلی د برېښنا ۵۰۰ کیلو ولټ لین بشپړ او ګټې اخیستې ته وسپارل شي، موږ به وکولای شو، چې ټول هېواد ته په غوره توګه برېښنا ورسوو. په ورستیو کې نوموړي له برېښنا شرکت سره د دولتي شرکتونو عمومي ریاست همکارۍ او همغږۍ ارزښتمنې وګڼلې او په یادو برخو کې د لا همکاریو غوښتونکی شو.

د دولتي شرکتونو عمومي رئیس د برېښنا دولتي شرکت اجرائیوي پلاوي د کړنو او فعالیتونو په اړه د کره ګزارش د ورکړې په موخه مننه وکړه او یو ځل یې بیا ټینګار وکړ، چې د مالیې وزارت د ټولو دولتي شرکتونو پر وړاندې ملاتړیز لیدلوری لري او اصلاحي پروګرامونه تر لاس لاندې لري، تر څو د دولتي شرکتونو د نوي قانون له تطبیق سره، د دولتي شرکتونو په فعالیت کې یو لړ جوړښتي بدلونونه او اصلاحات منځ ته راشي، تر څو دغه شرکتونه د ګټې په لور وخوځېږي.

SHTAMANAI

# رضایت شرکای بین المللی افغانستان از تطبیق تعهدات حکومت شامل سند چارچوب مشارکت

لینا «شعیبی»



از زمـان تأسـیس (۲۰۰۶)، بـورد مشـترک نظـارت وانسـجام بـه عنـوان بسـتر مرکـزی بـرای هماهنگـی اسـتراتیژیک، تدویـن پالیسـی هـای مشـترک، حـل مشـکلات و حسـابدهی متقابـل بیـن دولـت افغانسـتان و جامعـه بیـن المللـی عمـل کـرده اسـت.

بـورد مشـترک نظـارت و انسـجام یـک سـاختار مشـترک اسـت کـه بـر مبنـای آن دولـت و جامعـه جهانـی بـرای بررسـی پیشـرفت انکشـاف افغانسـتان، شناسـایی چالـش هـا و بحـث در مـورد خـلا هـای موجـود و تعییـن مسـیر آینـده گـرد هـم میآینـد.
بـورد مشـترک نظـارت وانسـجام در سـال ۲۰۰۶ در کنفرانـس لنـدن بـرای نظـارت بـر تطبیـق «قـرارداد افغانسـتان» و حصـول اطمینـان از انسـجام بیشـتر تـلاش هـای دولـت افغانسـتان و جامعـه جهانـی بـه منظـور دسـتیابی بـه اهـداف توافـق شـده در قـرارداد افغانسـتان ایجـاد شـد. پـس از تصویـب اسـتراتیژی انکشـاف ملـی افغانسـتان (ANDS) در کنفرانـس پاریـس (جـون ۲۰۰۸)، بـورد مشـترک نظـارت وانسـجام تمرکـز خـود را از نظـارت برتطبیـق «قـرارداد افغانسـتان» در راسـتای ارائـه رهنمایـی هـای اسـتراتیژیک و پالیسـی بـه منظـور تطبیـق سـند اسـتراتیژی انکشـاف ملـی افغانسـتان، اولیـن سـند چارچـوب ملـی صلـح و انکشـاف افغانسـتان و دومیـن سـند چارچـوب ملـی صلـح و انکشـاف افغانسـتان و همچنـان اهـداف سیاسـی و اولویـت هـای توافـق شـده بیـن دولـت افغانسـتان و جامعـه جهانـی در کنفرانـس هـای بعـدی در مـورد افغانسـتان معطـوف نمـود.
از زمـان تأسـیس (۲۰۰۶)، بـورد مشـترک نظـارت وانسـجام بـه عنـوان بسـتر مرکـزی بـرای هماهنگـی اسـتراتیژیک، تدویـن پالیسـی هـای مشـترک، حـل مشـکلات و حسـابدهی متقابـل بیـن دولـت افغانسـتان و جامعـه بیـن المللـی عمـل کـرده اسـت
تـا اکنـون ۲۳ نشسـت دوره ای و ۶ جلسـه ویـژه بـورد مشـترک نظـارت و انسـجام برگـزار شـده اسـت.
بیسـت و سـومین (۲۳) نشسـت بـورد مشـترک نظـارت و انسـجام (JCMB) میـان حکومـت جمهـوری اسـلامی افغانسـتان و شـرکای بیـن المللـی و انکشـافی آن بـه تاریـخ ۶ اسـد ۱۴۰۰ بـه هـدف بحـث روی اصـول و تعهـدات کنفرانـس جینـوا، رسـیده گـی بـه چالـش هـا و حفـظ دسـتآوردهای ۲۰ سـال اخیـر از جملـه ارزش هـای دموکراتیـک، ترویـج حاکمیـت قانـون، حقـوق بشـر، تحکیـم جایـگاه و حقـوق زنـان و تقویـت نهـاد هـای شـهروند محـور در افغانسـتان دایـر گردیـد.
در ایـن نشسـت نماینـدگان بیشـتر از ۴۰ کشـور دوسـت و سـازمان هـای بیـن المللـی، جامعـه




مدنـی و نهادهـای اکادمیـک کشـور حضـور داشـتند. اشـتراک کننـده گان روی اصـول و شـاخص هـای منـدرج سـند چارچـوب مشـارکت افغانسـتان (APF)، عملـی سـاختن اهـداف اقتصـادی و انکشـافی دومیـن سـند چارچـوب ملـی صلـح و انکشـاف افغانسـتان (ANPDF-II) در قالـب ۸ برنامـه ملـی دارای اولویـت بحـث و تبـادل نظـر نمودنـد.
ایـن نشسـت بـا در نظرداشـت شـرایط فعلـی کـه نیروهـای خارجـی از افغانسـتان خـارج گردیـده و همچنـان جنـگ بـا طالبـان در مناطـق مختلـف کشـور جریـان دارد، خشکسـالی و شـیوع ویـروس کرونـا از اهمیتـی ارزنـده ای برخـودار مـی باشـد.
چناچـه شـرکای بیـن المللـی تعهـد خویـش را در بخـش هـای مختلـف در قبـال همـکاری هـای شـان بامـردم افغانسـتان در ایـن کنفرانـس اعـلان نمودنـد.
نماینـده گان جامعـه بیـن المللـی تصریـح نمودنـد کـه در شـرایط دشـوار کنونـی در کنـار مـردم و دولـت افغانسـتان باقـی خواهنـد مانـد.
شـرکای بین‌المللـی افغانسـتان از تطبیـق تعهـدات حکومـت شـامل سـند چارچـوب مشـارکت افغانسـتان اظهـار رضایتمنـدی نمـوده، از حمایـت هـای همـه جانبـه شـان در قسـمت تـداوم حضـور سیاسـی، حمایـت از نیروهـای امنیتـی و دفاعـی افغانسـتان و حمایـت مالـی شـان بـا مـردم و دولـت افغانسـتان اطمینـان دادنـد.
از حمایـت هـای همـه جانبـه شـان بـرای تـداوم حضـور سیاسـی و حمایـت مالـی از دولـت و مـردم افغانسـتان اطمینـان دادنـد.




## پر عایداتو د مالیاتو قانون

**اتمه ماده**

د اقتصادي فعالیتونو مالیات

اتمه ماده:

(۱) انفرادي اشخاص، شرکتونه او نورې مېشتې مؤسسې چې په افغانستان کې په اقتصادي، سوداګریزو او خدماتي فعالیتونو بوخت دي، مکلف دي خپل مالیات د هغو عوایدو پر بنسټ چې د هېواد له کورنیو سرچینو څخه یې ترلاسه کوي، ورکړي.
(۲) پر عایداتو د مالیاتو کسرات په هغهٔ صورت کې د مجرایي او محاسبې وړ ګڼل کیږي چې د هېواد دننه سرچینو څخه په ترلاسه شویو عوایدو پورې اړوند وي.
(۳) د هغو الوتکو او د هغو د کارکوونکو له عوایدو څخه مالیه چې د افغانستان په قلمرو کې د بهرني دولت تر بیرغ لاندې فعالیت کوي، په دې شرط معاف ګڼل کیږي چې بهرنی دولت تر افغاني بیرغ لاندې الوتکو او د هغو اړوندو کارکوونکو ته په هغهٔ هېواد کې ورته معافیت ورکړي.
(۴) د هېواد په دننه کې په عوایدو پورې د اړوندو لګښتونو توزیع د دې قانون او پر عایداتو د مالیاتو د تعلیماتنامې د حکمونو له مخې صورت مومي.
(۵) که چیرې په افغانستان کې غیر مېشت شخص د ناخپلواکې نمایندګۍ له لارې فعالیت وکړي، د نوموړې نمایندګۍ د مالیې وړ عواید، د یوهٔ جلا او خپلواک حکمي شخصیت د عوایدو په توګه تاکل او په لاندې ډول محاسبه کیږي:

أ. هغه ورکړې (تادیات) یا مبالغ چې د غیرمېشت شخص د فعالیتونو په نورو برخو پورې اړه مومي، د دې قانون د دیارلسمې مادې په (۳)فقره کې د درج حکم له مخې د ونډې ګټه ګڼل کیږي.
ب. د هغو ورکړو او مبالغو مجرایي چې د غیر مېشت شخص په نورو ورکړو پورې اړه لري، د دې قانون د اتلسمې مادې په (۲)فقره کې د درج حکم له مخې مجاز نده.
ج. هغه لګښتونه چې د ناخپلواکې نمایندګۍ یا د غیر مېشت شخص د فعالیت د بلې برخې لخوا چې مستقیماً د نوموړې نمایندګۍ د ناخالصو عوایدو په ترلاسه کولو سره اړوند وي صورت مومي، د خپلواک حقوقي شخصیت د لګښتونو په توګه ګڼل کیږي.
۱.۸ یوحقیقي غیر مېشت او یا حکمي غیرمېشت شخص د هغو عوایدو له درکه چې له افغاني سرچینو څخه یې لاسته راوړي په افغانستان کې د مالیاتو تابع دي.

## تدارک روغنیات، فلتر، تایر ها و اجناس دیگر وزارت مالیه به اساس قرارداد چارچوبی

وزارت مالیه جمهوری اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء متذکره دارای نمبرتشخیصیه MOF/۱۴۰۰/G-۳۴۵۵ که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری از سایت اداره تدارکات ملی مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۳/ اسد /۱۴۰۰ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۳/ سنبله/۱۴۰۰ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۷۰,۰۰۰ هفتاد هزار افغانی می باشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۴۲۵

SHTAMANAI

## Deputy Ministry of Finance for Policy met with Head of United State Agency for International Development



On August ٠٤, ٢٠٢١, Deputy Minister of Finance Nazir Kabiri, met with head the United States Agency for International Development (USAID) Peter Duffy. The event was also attended by a number of directors from MoF.

In the meeting, the parties discussed the current reforms in the Ministry of Finance and government's development objectives in the form of National Priority Programs (NPPs) and how to finance them to provide basic services to the people while reviewing the outcomes of JCMB meeting.

Following that, Mr. Duffy assured of USAID full support to Afghanistan.

## د انګلستان بانک تاریخ ته ځغلنده کتنه

ضمیر ساجي



د انګلستان بانک د نړۍ یو له لرغونو بانکو ګڼل کېږي چې ۳۲۴ کاله مخکې د ۱۶۹۴ مېلادي کال د جولای په ۲۷ نېټه رامنځته شوی او اوس‌مهال د انګلستان حکومت د مرکزي بانک په توګه فعالیتونه تر سره کوي.

په انګلستان کې په لومړي ځل د دې مرکزي بانک د رامنځته کېدو نظریه د هغه وخت پاچا وېلیم او ملکې ماري له لوري ورکړل شوه، ځکه هغه وخت د خلکو پانګه او نوره شتمنۍ په غیر منظمه بڼه وه چې د سمون لپاره یې هېڅ سیستم شتون نه‌لره.

د دې بانک مرکزي څانګه له ۱۷۳۴م کال نه راپدېخوا د انګلستان لندن ښار په اولډ لېډي تریډنېډل کوڅه کې موقعیت لري او لومړنی رئیس جان هوبلن نومېږي چې له ۱۶۹۴م نه یې تر ۱۶۹۷م کال پورې د دې بانک چارې پر مخ یوړې.

په لومړي سر کې دې بانک د یوه سوداګریز بانک په حیث فعالیت پیل کړ، خو له لږې مودې وروسته یې په ډېره پیمانه د حکومت بانکي حسابونه هم خوندي کړل چې بالاخره د حکومت د یوه مدیریتي بانک حیثیت یې خپل کړ او د بانک نوټونو چاپولو تر څنګ یې د انګلستان سروزرو خوندي ساتل هم پیل کړل.

د ګورډان ریوټس پر مهال په ۱۷۸۰ مېلادي کال کې یو ځل دا بانک د یوې ډلې له لورې له ګواښ سره مخامخ شو چې حکومت بیا ورته په هغه وخت کې د پیک‌کوېټ په نوم ځانګړي ساتونکي جوړ کړل چې تر ۱۹۷۳ مېلادي کال پورې یې تري ساتنه کوله.

نوي اصول او مقررات

په ۱۸۴۴ مېلادي کال کې د بانک د اصولو له مخې په لومړي ځل په انګستان او وېلز کې کاغذي روپۍ یا بانک نوټونه چاپ کړل او دې بانک د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د حکومت پورونو په مدیریت کې هم مرسته کوله او د فرانسې پر خلاف جګړې تمویل کې یې هم رغنده رول لوبولی دی، خو په ۱۹۴۶م کال کې د لومړي وزیر کلېمنټ اټلي حکومت یاد بانک ملي کړ چې تر ډېره یې بیا حکومتي چارې پر مخ وړلې.

په ۱۹۹۷م کال کې جورډن براون د دې بانک فعالیتونه نور هم خپلواک کړل، څو په مرسته یې د سود او ګټې نرخونه وټاکي.

دا بانک په انګلستان او وېلز کې د سټرلېنګ پونډ نوټونه چاپوي چې په نړۍ کې د لرغونو بانکونو په اتم ځای کې قرار لري، خو په سکاټلېنډ او شمالي اېرلېنډ کې د سوداګریزو بانکونو له لارې بانک نوټونه کنټرولوي او د ۲۰۰۲م کال په وروستۍ میاشت کې دیلا رویې بانک ته هم اجازه ورکړل شوه چې پیسې چاپ کړي.

په ۲۰۱۱م کال کې د پیسو څارنې کمېټې تر څنګ د مالي پالیسي موقته کمېټه هم رامنځته شوه، څو په انګلستان کې د مالي ثبات لپاره نوي رامنځته شوي مقررات تر څار لاندې ونیسي او د دې تر څنګ د دې هېواد د بیمو ټولو کمپنیو اصول په سم ډول عملي کړي او سربېره پر دې یې په ۲۰۰۹م کال کې د جایداد پېرلو اسانتیاوې هم رامنځته کړې.

اسانتیاوې رامنځته کول

له هغه وروسته چې په ۱۹۹۷م کې د کارګرو ګوند واک تر لاسه کړ، د جورډن براون له خوا اجازه ورکړل شوه چې دا بانک به د پیسو څارنه په ازاد ډول کوي چې په دې سره په ۱۹۹۸ کې د پیسو ټول نظارت یوې ځانګړې کمېټې ته ورکړل شو.

د دې بانک برحال رئیس مارک کارنې نومېږي چې د ۲۰۱۳م کال جولای میاشتې په لومړۍ نېټه یې دنده پیل کړه او کارني لومړنی بهرنی دی چې د دې بانک ریاست یې تر غاړې دی. په پیل کې هغه ته د پنځه کلونو د ریاست دنده ورکړل شوې وه، خو کله یې چې د انګلستان تابعیت واخېست دنده یې لومړی تر ۲۰۱۹م کال پورې شوه، اما د حکومت په غوښتنه یې ماموریت تر ۲۰۲۰م کال پورې وغځېده او دا بانک له ۲۰۱۴ کال راهسې څلور مرستیال رئیسان هم لري.

د سرو زرو ارزښت

دا بانک اوس نه یوازې د پیسو لپاره ښه ځای بلل کېږي، بلکې د انګلستان حکومت او د نړۍ دېرشو نورو هېوادونو د سروزرو سرمایې لپاره یو تر ټولو خوندي ځای هم دی.

د ۲۰۱۶م کال د اټکل له مخې په دې بانک کې اوس‌مهال ۵۱۳۴ ټنه سره زر خوندي دي چې د ۲۰۱۸ کال د مارکېټ نږدې ۲۰۰ مېلیارډه پونډه ارزښت لري.

د بانک نوټونو چاپول

دې بانک چې له ۱۶۹۴م راپدېخوا بانک نوټونه جوړ کړل. په سر کې بانک نوټونه په لاسي خط پیل شول، خو په ۱۷۲۵م کال کې د چاپ په ګاڼه سمبال شول، اما بیا به هم اړتیا پېښدله چې د چلښت لپاره پرې د خزانه‌دار له لوري لاسلیک وشي.

په ۱۸۵۵م کال په بشپړه توګه د نوټونو چاپ پیل شو، خو تر ۱۹۲۸م کال پورې ټول نوټونه په سپین رنګ کې وو او لیکل یې په تور رنګ پسولل شوي وو.

همدا راز، تر ۱۸مې او ۱۹مې پېړۍ پورې د سپینو نوټونو یوازې یو ګون او دوه‌ګون کاغذي چاپېدل، خو په ۲۰مه پېړۍ کې د دې نوټونو د پنځه ګون تر څنګ د سټرلېنګ پونډ زرګون هم له چاپه راووت.

د ۱۹مې پېړۍ تر نیمایي پورې سوداګریزو بانکونو اجازه لرله چې بانک نوټونه چاپ کړي او چاپ شوي نوټونه به د ولایتي بانکي کمپنیو له لوري وېشل کېدل، خو په ۱۸۴۴م کال کې د نویو مقرراتو له مخې نویو بانکونو ته د پیسو چاپ اجازه نه ورکول کېده او پر پخواني بانکونو هم ځینې محدودیتونه وضع شول چې د خپلو پیسو چاپ به له ټاکلي اندازې نه ډېروي.

د وخت په تېرېدو سره د ولایتي بانکي کمپینو اعتبار هم له منځه لاړ، خو یوازې د وېلز، فاکس او کمپنۍ په نوم بانکونه وو چې تر ۱۹۲۱م کال پورې یې بانک نوټونه چاپول، اما له هغه وروسته چې نوي مقررات وضع شول اوس یوازې په سکاټلېنډ کې درې او په شمالي اېرلېنډ کې څلور هغه سوداګریز بانکونه دي چې د انګلستان بانک تر څارنې لاندې خپل بانک نوټونه چاپوي.

د لومړۍ نړیوالې جګړې په پیل کې د اسعارو او بانک نوټونو قانون جوړ شو چې په موقت ډول یې چارې د اقتصاد او مالیې وزارت ته ورکړل شوې، څو د یوګون او لس شیلېنګ نوټونه چاپ کړي. د دې وزارت قانوني چلښت لره، خو له سرو زرو سره به نه تبدیلېدلې چې په دې سره یې د فلزي پیسو ځای ونیوه او پر دې بانک نوټونو د پنځم پاچا جورج انځورونه هم چاپ شوي وو.

د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د جرمني نازیانو د پراشوټونو له لارې هره میاشت ۵۰۰ زره جعلي بانک نوټونه د برېټانویانو پر خاوره تویول چې په مرسته یې د ۵ ګون او ۵۰ ګون ارزښت کم او د برېټانیا اقتصاد ته زیان واوړوي، خو دا چاره د برېټانویانو په ګټه تمامه شوه، ځکه هغوی به دا بانک نوټونه جرمني جاسوسانو ته په اروپا کې د فعالیت په بدل کې ورکول.

## د فراه ولایت محصولي ګمرک فعالولو په موخه یاد ولایت ته د ګمرکونو لوی ریاست د تخنیکي پلاوي سفر

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي پلاوي د دې ریاست د عملیاتي مرستیال ښاغلی عمر موмند په مشرۍ د فراه ولایت محصولي ګمرک د فعالولو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

یاد پلاوي تېره ورځ د فراه ولایت مقام سره د لیدني تر څنګ د دې ولایت له یو شمېر ملي سوداګرو سره وکتل او د محصولي ګمرک د فعالولو په اړه یې له دوی سره بحث او خبرې وکړې. همداشان د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي پلاوي د فراه ولایت مقام او ملي سوداګرو په مشوره د محصولي ګمرک لپاره مناسب ځای هم انتخاب کړ.

د امتیاز خاوند: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: محمد رفیع تابع
د مسؤل مدیر مرستیال: محمد تمیم حیدري
اېډېټوران : اجمل زاهد، محمد ابراهیم ګران، لینا شعیبي، صدیقه پوپلزۍ او شبنم صدیق
د خبر مدیر: داود نظري
خبریال :سید مصطفی سروش
لیکوالان: محمد ابراهیم ګران، اجمل زاهد، محبوبه بابري، صدیقه پوپلزۍ او افضل الکوزي
عکاس: فضل احمد یوسفزی
تخنیک: لینا شعیبي، عتیق الله میاخېل
ډیزاینر: محمد نسیم ظهوري

د اړیکو شمېرې:
٤٤٠ ٩٢٤ ٢٠٢ (٠) ٩٣+ / ٩٣+ (٠)٤٧٩٦٠٠٩٩٩
برېښنالیک: magazine@mof.gov.af
پته: پښتونستان واټ څلور لارې، کابل، افغانستان.

هفته نامه شتمنی پذیرای مقالات تمام همکاران عزیز ما در داخل و خارج از وزارت مالیه می باشد. مقالات باید اقتصادی و مرتبط به وزارت مالیه باشد.
از تمام همکاران عزیز و قلم بدستان کشور خواهشمندیم تا مقالات شان را با ما از طریق ایمیل آدرس magazine@mof.gov.af شریک نمایند.